# د کره کتنې ټولنيز او ثقافتي حدود

**The Social and cultural limits of criticism**:

ډاکټر نصيب الله سيماب

**Abstract**:

For the analysis of literature, it is empirical to consider the environment and circumstances which played vital role as stimulus in the process of creation. Criticism is always instrumental to evaluate the premise of creations in the peculiar socio-cultural order of human society. Some times the themes and notions of literature are diverted towards particular traditional values sets of beliefs. Quite contrary it is also experienced as anti-tradition and pseudo-modern. In both of the cases the essence and esthetics of literature are distorted. Criticism adds a value in this connection, and strives to unpack the significance of creation within in the context of pragmatism with all its esthetics. It strives to link the objective realities of life through establishing a casual link of cause and affect. This paper is going to elaborate the essence of criticism towards identifying various dimensions of human behavior and the aberration constructed socially over the period of centuries.

ادب د ژوند بغيره او ژوند د ټولنې بغير خپل وجود برقراره نه شي ساتلے دا درې واړه يو له بل سره لازم او ملزوم دي. نو ځکه د يو بل د مرستي او اثراتو څخه ځان نه شي ژغورلے. ژوند به ادب متاثره کوي، ادب به ټولنه متاثره کوي، ټولنه به ادب متاثره کوي او ادب به ژوند متاثره کوي. "انساني خيالات د خپل چاپېرچل نه پيدا کيږي. دغه خيالات او تصورات په فنون لطيفه کښې منعکس کيږي، ادب د فنون لطيفه يو شاخ دے. نو په ادب کښې هم انساني جذبات او احساسات د خپل عهد او چاپېرچل د معروضي حقايقو او روحاني قدرونو په تناظر کښې خپل اظهار کوي."(1)

چیرې چې ادب د ټولنې جوړ کړل شوي قدرونه ماتوي او معروضي حقایق له نظره غورځوي، هلته تنقید د ټولنې د یو محافظ په توګه ادیب ته دا اجازه نه ورکوي، چې هغه دي داسې څۀ ولیکي، چې په هغه باندې د ټولنې اساسي قدرونه له منځه ځي. "د یو قام اخلاقي، مذهبي، سیاسي او د ټولو نه زیات معاشي قدرونه د هغه قام ادبي قدرونه رغوي او ورانوي. څنګه- څنګه چې د یو قام د ژوند قدرونه د پېښو حالاتو سره بدلیږي، دغه شان‌تې د هغه قام د ادب قدرونه هم بدلیږي. په یو ادب کښې د دغه قام د ژوند په حقله قدرونه مقصدونه هر څیز ښه روښانه ښکاره کیږي."(2)

ځینې وخت ټولنه د جدت او رجعت په منځ کې تقسیم شي. رجعت خوښوونکي هر نوې فکر او نوې پر مختګ ته غاړه نه ږدي، که څۀ هم هغه د ټولنې په پر مختګ کې ډېر مثبت رول ادا کولے شي، او جدت خوښوونکي د رجعت خوښوونکي په ضد هر هغه څۀ خپلې ټولنې ته د راوړلو هڅې کوي، کوم چې نوي وي، او یا نوي بلل کیږي. خو د هغه منفي اړخونه په نظر کې نه نیسي. دوئ د ټولنې هر جوړ شوے قدر د جدت په نامه له منځه وړل غواړي. چې د ادب سره- سره د ټولنې د انتشار باعث هم ګرځي. "د ادیب دپاره اول شرط رینښتونولي ده، هغه به د جذبې صداقت لري. ادیب د خپلې جذبې ترجمان وي، د هغه نیکي دا ده، چې د رښتیا څخه کار واخلي، او د رښتیا مطلب د هغه د جذبې رینښتونې ترجماني ده. که چیرې شاعر د خپلې ټولنې ترجمان او خادم هم وي نو بیا به دے په سنکیانو کښې ځان ورګډوي، چې د ټولنې هر وګړے داسې پاکیزه کښې چې د ټولنې د خدمت دپاره یې په روحاني توګه اماده کړي."(3)

د جذبې دا صداقت ادب د ټولنې د رغېدو باعث ګرځوي. ادیب په خپل داخل کښې چې څۀ دے، هغه تر خپل ځان پورې محدوده دے. خو کوم وخت چې دے خارج ته راځي هلته دے د یو داسې ټولنې سره مخامخ کیږي، په کوم کښې چې دے ژوند کوي. دلته باید د ده فکر د انفرادیت څخه د اجتماعیت و خواته د تللو هڅه وکړي. لکه چې وایي: "چې کوم وخت فنکار خپلې فن پارې ته خارجي بڼه ورکوي، (یعني و کاغذ ته یې منتقل کوي) نو بیا هغه د خپلې حلقې څخه راوځي، په عملي دنیا کښې قدم ایږدي، هغه وخت به دے د عملي دنیا د ټولنیزو او اخلاقي اقدارو خیال ساتي."(4)

په نړۍ کښې چې کوم لوئ ادب تخليق شوے دے، د هغوی د پيدايش لويه ذريعه د ټولنې اقدار دي، که خوشحال خان خټک لوئ ادب تخليق کړي، او که رحمان بابا د هغوی ټولنې د مثبت اقدارو حدونه نه دي مات کړي، بلکې مثبت اخلاقي قدرونه او ټولنيز رسمونه د دوئ د لوئ ادب د تخليق کېدو باعث ګرځېدلے دے، پروفېسر بوچر ليکي: "د لاتګې نس پرته بل يوه يوناني نقاد تر دې ځايه چې ارسطو هم دا شے په نظر کښې نه دے ساتلے، چې د ادب د لوړ او پر عظمت تصانيف پيدا کولو لويه ذريعه د هغه زماني اخلاقي او معاشرتي رسم و رواج ؤ."(5)

په هم دې تناظر کښې چې کله هم ادب د ټولنې په حدودو کښې ځان نه دے ساتلے، هغه خپل ژوند د لاسه ورکړے دے. د کومې ټولنې نقاد چې دې خواته توجه نه ده ورکړې، د هغه کره کتنه بې ګټې پاتې شوې ده. داسې نه چې ادب او نقاد په دې ځان ته تاوان رسوي، بلکې د ټولنې د زيان باعث هم ګرځېدلے دے. هغه ادب چې په خپله ټولنه کښې د يوې بلې ټولنې نمايندګي کول غواړي، داسې معنا لري، لکه هغه څوک چې د ذهني مفلسي ښکار وي. "ذهني مفلسي او ړوند تقليد ټولنه د انحطاط و خواته بيايي او دا عمل د يو ځانګړې ټولنې حدونه له منځه وړي. اهل فکر او اهل قلم يو نصب العين د قام په مزاج او شعور کښې داسې اخښوي، چې له هغه څخه قامي تشخص پيدا کيږي. او کم از کم تر ډېرو پېړيو پورې دا تشخص په خپل ځاے موجود وي، او د قام د انحطاط په دور کښې دا قوت د اخري د فاعي حصار په ښه کښې ځان ښکاره کوي."(6)

په پښتو ادب کښې دا فريضه د خوشحال خان خټک شاعري ترسره کوي، هغوی د پښتون قام يو نصب العين ته په خپله شاعرۍ کښې ځاۓ ورکړے دے. هم دا هغه شے دے، چې خوشحال خان خټک ته يې په پښتو او پښتنو کښې هغه مقام ورکړے دے، چې بل هيچا ته نه دے په برخه شوے. خوشحال خان خټک د پښتني ټولنې د نقاد په څېر ځان ښکاره کوي او د پښتني ټولنې حدود ښکاره کوي، او بيا په دې حدود کښې دننه د پرمختګ لارې ورپه ګوته کوي، او په خپله هم ځان دې ته چمتو کوي. "يو اديب د خپل ماحول څخه متاثره کيږي او پر خپل ماحول باندې اثر اندازه کيږي. هم دا رنګه هغه د خپل ماحول خالق هم وي، او مخلوق يې هم وي."(7)

په دې دواړو صورتونو کښې د ے نه شي کولے چې د خپلې ټولنې تر حدودو ځان وباسي. د ټولنې ښۀ او بد دې په حېث د يوۀ وګړي په نظر کښې نه ونيسي. د ټولنې عام وګړي چې کوم توقعات د ښوني په معنا د اديب څخه لري، د بل چا څخه دومره نه لري. "زمونږ ټولنه د اديب څخه خواست کوي، چې هغه د ے شنډه نه بلکې بارداره ونه شي، چې د ښايست سره د ښېګړي باعث هم شي، او دوئ د قام د خوشحالۍ او پر مختګ دپاره کار اوکړي."(8)

دا فريضه کره کتنه تر سره کوي. په دې چې کره کتنه د ټولنې او اديب تر منځ د پل کردار ادا کوي. که پل مضبوط وي، نو د اديب او د ټولنې تر منځ به رابطه مضبوطه وي. نو اوس که نقاد د خپلې ټولنې د مثبت اقدارو، رسم و رواج او تاريخ سره نه شلېدونکې اړيکې ولري، نو هغه اديب او ټولنه دواړه په خپل حدود کښې ساتلے شي. "نقاد ته په کار د ے، چې هغه د ادب معلومات او د هغه د متفرقو شعبو په خصوصياتو ځان خبر وساتي، پر تاريخ باندې يې ژور نظر وي، د ماضي د ټول ادب د دورونو په نشوونما او په عروج و زوال باندې خبر وي."(9)

د نقاد تاريخي شعور د ده په عصري او سماجي شعور جوړولو کښې مرسته کوي. په هم دې اړوند د ے د خپلې ټولنې حدود پېژني او دا هم ورته ښکاره کيږي، چې د محدودې ټولنې په حدودو کښې پراخوالے څنګه راتلے شي.

"د ټينې نظريه په فرانسوي ادب کښې ډېره مشهوره ده، د هغه د نظريې تعمير پر درو عناصرو باندې د ے، نسل، ماحول او عصري رجحان، د هغه په خيال دا درې عناصر د ادب د تخليق ذمه واره دي."(10)

د تاريخي شعور د غوښتني معنا دا نه ده، چې سړے ماضي پرست شي او د ټولنې هغه دايره دې نه ماتوي کومي دايرې چې د وګړي فکر محدود کړے د ے. بلکې د فکر محدوديت د ټولنې مرګ د ے، او نه د عصري شعور معنا دا ده، چې د خپلې ټولنې فکري روزنه دې داسې وشي. چې هر زوړ شے د ماتېدو او هر زوړ فکر د نه منلو وړ د ے. "ادب په خاص چاپېرچل کښې ګېر خلګو ته د خرابو چارو خلاف جذبات بخښي او بيا د ناکاره چارو په ختمولو کښې ملګرتيا ورسره کوي، او د ښه ژوند دپاره لار هواروي. په دې چل د يو ښکلي چاپېرچل رغاونه کوي."(11)

ځینې وخت داسې ستونځه هم را منځ ته کیږي، چې ادیب په ټولنه کښې یو شي ته د نیمګړتیا په نظر ګوري او د ټولنې په نظر هغه نیمګړتیا نه وي. "که ادیب په دغه کار کښې غلط شي او داسې یوه نیمګړتیا په ګوته کړي، چې هغه د دهٔ په نزد نیمګړتیا ګڼل کیږي مګر د ټولنې په نزد هغه نیمګړتیا نه وي. دلته ادیب باید خپل ذوق او خپل شخصي تمایلات په نظر کښې ونه نیسي، بلکې د ټولنې ګټې تر ټولو لومړۍ په نظر کښې ونیسي."(12)

په داسې حال کښې د کره کتنې وظیفه دا جوړیږي چې که د ادیب شخصي نظر په راتلونکي کښې د ټولنې د پرمختګ باعث ګرځي او د ټولنې په حدود کښې وسعت راولي نو باید د ادیب په نظر خورولو کښې د ټولنې ذهني رهنمايي وکړي، او که چیرې دا شخصي نظر د ټولنې د حدودو د ماتېدو باعث ګرځي نو بیا په کار دے، چې مخ نیوے یې وکړي. په هم دې صورت کښې ټولنه او کره کتنه دواړه کولے شي چې د یو بل د حدودو محافظ شي.

## ثقافتي حدود

د یوه قام انفرادي حیثیت یعنې ځانګړتیا د هغه ژبه او کلتور دے. ژبه او کلتور د یوې سیکې دوه مخه دي. "ثقافتونه هم د ژبو په څېر یو له بله توپیر لري. په دوو ژبو کښې یواځې الفاظ یو تر بله توپیر نه لري، بلکې په هغو کښې د اصطلاحاتو، د جملو ترکیب او د ثقافتونو اختلاف هم پروت دے."(13)

د ژبو او ثقافت دا اختلاف د یو قام د تشخص او ځانګړتیا سوب ګرځي. دا د یوه قام ګډه ورثه وي، چې د ګډ ژوند یعنې ټولنیز ژوند په نتیجه کښې رامنځ ته کیږي، او دا د یو تاریخي او روایتي تسلسل زېږنده وي، او د وخت او حالاتو د اثراتو نخښې په خپله غېږ کښې ساتي.

"د یوې ټولنې د خلقو د ژوند د مطالعې په موقع د هغې د قدامت، خصوصیاتو او په هغې کښې د وخت په وخت راغلو بدلونونو تحقیق او څېړنه ضروري وي. په دې ضمن کښې د تحقیق میدان وړومبۍ پوړۍ د دغې ټولنې د ثقافتي ژوند جایزه وي د دې پوړۍ د تاریخي پسِ منظر په سیوري کښې د ادب، شعر وشاعري، ثقافتي ارتقا او دود دستور مطالعه کیږي."(14)

د دې مطالعې وجه دا ده چې ثقافت د انساني ژوند او بیا د یوځانګړې قام د ژوند عکاس دے. بقول ډاکټر برهان احمد فاروق: "ثقافت د انساني طرز عمل نوم دے، په اکتسابي طرز عمل کښې زمونږ هغه ټول عادتونه، کارونه، خیالات او اقدار شامل دي، کوم چې مونږ د یوې منظمې ټولنې ګروه (ډلې) یا د خاندان د ډلې په حیث عزیز ساتو یا عمل وربانديې کوو، یا پر هغه باندې د عمل کولو هڅې کوو."(15)

ثقافت داسې نه چې انسان د پیدا کېدو سره سم راوړي بلکې دا د یوې ټولنې زېږنده دے. "ثقافت څه وهبي یا جبلي شے نه دے، بلکې هغه د ټولنې د نظام، کردار (طرز عمل او طرز فکر) دے، چې هغه مونږ په ټولنه کښې د اوسېدلو پر وخت اکتساب کوو."(16)

دا اکتسابي عمل د ټولنې د وګړي په تربیت کښې په شعوري او لاشعوري دواړو سطحو باندې لاس لري. " انسان د دې ثقافتي مظاهر او علامتو په حواله د ژوند لمس د وجود پر هر جوړ باندې احساسوي. یو ثقافتي اسلوب حیات د دې علامتو او مظاهرو په بنه انسان ته یو صفا، روښانه او واضح فریم آف ریفرنس ورکوي."(17)

په هم دې وجه په ادبیاتو کښې د ثقافتي حدودو ماتول او له هغه څخه وتل عیب ګڼل کېږي. ځکه چې د ثقافت کوم بنیادي اجزاء دي هغه د ټولنې دپاره یو داسې دایره جوړوي، چې هغه د خپلې ټولنې ځانګړتیا برقراره ساتي. د فیض احمد فیض په نزد ثقافت د دې بنیادي اجزاوو نوم دے لکه:
اول هغه عقیدې، قدرونه، فکرونه، تجربې یا خواهشونه دي چې هغه یوه انساني ډله یا برادري ځان ته خوښ او نژدې ساتي.

دویم هغه اداب، عادتونه، رسمونه، طور طریقې چې په دې ډله کښې رائج او مقبوله دي.

درییم هغه فنون مثلاً ادب، موسیقي، مصوري، عمارت ګري او دستکاري چې په هغه کښې داغه باطني تجربې او قدرونه، عقیدې، فکرونه او ظاهري طور طریقې په ډېر مرصع او تراشلي صورت کښې اظهار مومي."(18)

دغه شے قام مضبوط کوي، او د ثقافت په پړي یې ټینګ ساتي. کوم څوك چې له دې پړي څخه د وتلو هڅه کوي، هغه د قام څخه د وتلو هڅه ګڼل کېږي. د یو ثقافت په تشکیل او د هغه په بقا کښې د ژبې او ادب ډېر لوئ رول دے، په

هـم دې حوالـه ممتـاز حسـېن ليکـي: "يـو قـام هغـه وخت مضبوطه کيـږي، چـې هغـه تـه پـه بشـپړه توګـه دا معلومـه وي، چـې د هغـه ثقافـت څـۀ دے او بيـا دغـه ثقافـت اظهار په خپله ژبه کښې کوي."(19)

کـه د يـوه قـام د کلتـور اظهـار د هغـه قـام پـه ژبـه کيـږي، نـو بيـا د ژبـې رول مهـم شـي. لکـه څنګـه چـې د وخـت پـه تېرېـدو د زمـانې د بـدلونونو سـره پـه انسـاني ژونـد کښـې هـم تغيـر راځـي. دا رنګـه ثقافـت هـم د زمـانې د ارتقـاء پـه اړونـد تغيـر مـومي. کـه چيـرې ثقـافتي جبـر د انسـاني ژونـد د ارتقـاء پـه لاره کښـې خنډ شـي، هلتـه بيـا پـه ټولنـه کښـې بغـاوت رامـنځ تـه کيـږي. دا بغـاوت د هغـه اجـزاوو پـه خـلاف راپورتـه کيـږي، کـوم چـې د ترقـۍ پـه لاره کښـې خنډ وي يـا يـې افاديـت لـه لاسـه ورکـړے وي. دلتـه بيـا ژبـه او ادب د دوئ پـه مـنځ کښـې د راهنمـا کـردار ادا کـوي. "کـه چيـرې د ثقـافتي جبـر پـه مقابلـه کښـې بغـاوت لاره نـه شـي پيـدا کـولے، نـو و دې تـه مـونږ جامـد ثقافـت وئـېلے شـو. پـه ادبـي اصـطلاح کښـې هغـه نظريـې، طـرزِ عمـل، کـردار، فـن، ژبـه، ادب يـا صـنف سـخن تـه جامـد وئېـل کيـږي، چـې پـه هغـه کښـې د عصـر، مـاحول او د نوو غوښتنو مطَابق د ځان بدلېدو صلاحيت ختم شوے وي."(20)

کـوم وخـت چـې دا صـلاحيت خـتم شـي هغـه قـام او ټولنـه د نـړۍ پـر مـخ بيـا پـه تـاريخ کښـې تـش پـه نامـه پاتـه کيـږي. خـو د جدت پـه نامـه د بـل قـام ثقافـت خپلـول او خپـل ثقافـت د لاسـه ورکـول تـر هغـه طـرزِ عمـل زيـات خطرنـاکه دے. پـه داسـې حـال کښـې ادب او پـه ادب کښـې کـره کتنـه راَ مـخ تـه کيـږي، او خپلـه ذمـه واري تـر سـره کـوي. ځکـه خو کلـه کلـه د خلګـو پـه نظر کښـې کـره کتنـه د ژونـد پـه حقلـه خنډ ښـکاره کيـږي. خـو دا خنډ نـه بلکـې د خپـل قـام د ثقـافتي حـدودو ذمـه واري ترسـره کـوي. د کـره کتنـې ذمـه واري دا ده چـې د خپلـو ثقـافتي حـدودو پـه تـاکلو کښـې د خپلـې ټـولنې مرسـته وکـړي. او هغـه لاره خپلـه کـړي، کومـه چـې قـامي تشـخص او ځانګړتيـا هـم د لاسـه نـه ورکـوي او د عصـري غوښـتنو سـره څنـګ پـر څنـګ هـم روانـه وي. "کـه چيـرې د پښـتنو پـر تـاريخ نظـر واچـوو نـو دا خبـره بـه جوتـه شـي چـې پښـتون جـدت خوښـوونکے دے، د پښـتنو فطـرت لـه ازلـه جـدت پسـنده دے، د دې ژبـې تـاريخ د ټولـو دورو ترجمـاني کـوي، دې ژبـې هـر نـوے اسـلوب او انـداز د خپـل مـزاج مطابق خپل کړے دے."(21)

پښتون جدت خوښوونکے ضرور دے، خو د خپل مزاج مطابق. کوم څۀ چې یې د مزاج سره سمون نه خوري هغه که هرڅۀ په زړه پورې وي پښتون یې نه قبلوي، تر اسلام له مخه چې د پښتونولۍ هر رنګ وو، ووبه خو د اسلام له راتګ سره پښتون ثقافت تغیر پیدا کوي، او په نړیواله سطح باندې په اسلامي ثقافت ځان ورګډوي. دا رنګه د عصري تغیر سره پښتني ثقافت هم تغیر مومي. خو خپل مثبت اقدار یې پر ځائ ساتلي دي. "د دې باوجود چې د تاریخ په مختلفو ادوارو کښې د راغلو بدلونونو نوعیت جلا جلا وو، خو د رد وقبول فطري قوت او لساني لچك پښتو ژبه د هر حمله آور د قطعي تصرف څخه محفوظه ساتلې ده. د افادیت په خاطر دې نوي عقاید، نظریات، افکار او د شعر و شاعرۍ صنفونه خپل کړے دي. لیکن د بلې ژبې له لاسه یې خپل ځان د فنا کندې ته نه دے غورځولے."(22)

په دې حواله که چیرې مونږ د پښتو اولسي ادب وګورو، نو دا شے بۀ ثرګند شي چې پښتنو د خپل ثقافت سره سره جدت ته هم لاره ورکړې ده او د جدت مثبت اړخونه یې قبول کړي دي. هغه اړخونه یې رد کړي دے کوم چې منفي اثرات لرونکي دي. دا هغه ثقافتي تنقیدي شعور دے، چې په پښتو اولسي ادب کښې په مجموعي ډول لیدل کیږي. هم دغه اثرات دي چې د پښتو پر کتابي یا تخلیقي ادب باندې هم لیدل کیږي. چې د پښتونولۍ مثبت اقدار په یوه حال کښې هم له لاسه نه ورکوي. چا چې هم د دې اقدارو څخه د عقیدې په حواله یا د پښتونولۍ په حواله سرغړونه کړې ده، هغه د پښتني ټولنې دپاره د قبول وړ نه دے ګرځیدلے. د دې ژوندے مثال د افغانستان د ثور انقلاب و، چې د پښتني ثقافت په بنیادي اجزاوو کښې د بدلون غوښتونکے و، ځکه له ناکامۍ سره مخامخ شو. "د مادې پرته د بل شي نه منونکے روایتي سائینس شعور چې څه رنګه د جذباتي، حسیاتي تجربې نفي وکړله، هغه رنګه یې ادب، مذهب، ثقافت او مابعد الطبعیات ټول بې اعتباره کړل."(23)

پښتو ادب داسې فکر لرونکو خلګو ته په خپله لمن کښې ځائ ورنه کړۀ. خو هغه مثبت اړخونه چې د دوئ د بې اعتبارۍ باعث نه ګرځیدل یا یې و ثقافت ته د زیان باعث نه ګرځیدل په خپله لمن کښې ځائ ورکړ او د دې ثبوت د پښتو ټول جدید ادب ورکوي. دا وظیفه د پښتو ادب کره کتونکي او ورسره ټولنې ډیره

ښه ترسره کړله. که څهٔ هم په دې کښې د تشدد اميزش زيات ليدل کيږي، خو د کره کتنې وظيفه د ثقافت په حواله دا جوړيږي، چې هغه خپل حدود د خپل ثقافت له حدودو سره وتړي. د ثقافت حدود د ځان حدود وبولي هلته بيا کره کتنه د ثقافت له وجود سره- سره د خپل وجود پالنه هم کولے شي. خو د نن په جديد حالاتو کښې کره کتنه هغه د ټي، ايس، ايليټ خبره چې وايي: "د جديد تنقيد يوه کمزوري دا ده چې دے په خپله دا يقين نه لري چې اخيرتنقيد د کوم مرض دوا ده. د دې څخه څهٔ فايده اخستل کيږي او دا فايده کومو خلکو ته رسيږي. غالباً د تنقيد لطافت، ژوروالے او متنوع د ده بنيادي مقصد مبهم کړے دے."(24)

نو اوس که چيرې په دې جديد سائنسي دور کښې کره کتنه خپل مقصد وپيژني او په جديد حالاتو کښې د سائنس، فلسفې او د نورو علومو پر مختګ په نظر کښې ونيسي او د خپلې ټولنې ذهني او ثقافتي سطح هم تر پام لاندې ونيسي، بيا يو مقصد و ټاکي نو زما په خيال چې کره کتنه به په داسې حالاتو کښې يو ستر رول ولوبوي. چې له هغه څخه به د جدت لاره هم نه بنديږي، او د کره کتنې د حدودو سره- سره به ثقافتي حدود هم وسعت پيدا کړي.

✡✡✡

# حوالې

(1) سلیم راز، تنقیدي کرښې، (م، ن، 2000ء) مخ 22.

(2) سحر یوسفزے، ادب څه دے؟، دریم چاپ، (سوات: شعیب سنز منګوره، 1996ء) مخ 80.

(3) ډاکټر سید عبدالله ، اشارات تنقید ، (مکتبه خیابان الادب، 1966ء) مخ 62.

(4) ایضاً (ایضاً ) مخ 109.

(5) ډاکټر سید محی الدین قادری زور ، روح تنقید ، (مکتبه معین الادب، 1966ء) مخ نامعلوم.

(6) احمد شمیم، زاویه نظر ، (کوټه: روبي پبلشرز ، 1987ء) مخ 16.

(7) ډاکټر سلام سندیلوی ، ادب کا تنقیدي مطالعه، څلرم چاپ، (لاهور: مکتبه میري لائبریري، س، ن، ) مخ 33.

(8) سحر یوسفزے، ادب څه دے، دریم چاپ، (سوات: شعیب سنز منګوره، 1996ء) مخ 82.

(9) ډاکټر محی الدین قادري زور، روح تنقید ، (مکتبه معین الادب، 1955ء) مخ 110.

(10) ډاکټر سلام سندیلوي ، ادب کا تنقیدي مطالعه، (لاهور: مکتبه میري لائبریري، س، ن) مخ 32.

(11) سحر یوسفزے، ادب څه دے، دریم چاپ (سوات: شعیب سنز منګوره، 1996ء) مخ 199.

(12) محمد اکبر معتمد ، ادب د اولس په خدمت کښې، د زیري کالنے (کابل: د افغانستان د علومو اکاډیمي، 1357ش) مخ 521.

(13) محمد صدیق روهي، ادبي څېړنې، (ننګرهار: د ښوونې او روزنې پوهنځے، 1360ش) مخ 79.

(14) محمد نواز طائر، ټپه او ژوند ، (پېښور: پښتو اکېډیمي، 1980ء) مخ 32.

(15)حفـیظ ابوالاعجـاز صـدیقي ، کشـاف تنقیـدي اصـطلاحات، (اسـلام آبـاد: مقتدره قومي زبان، 1985ء) مخ 55.
(16) ایضاً ایضاً ( ایضاً ) مخ 55.
(17) فـاروق عثمـان، نکـات نظـر، (ملتـان: بـیکن بکـس گلشـن گشـت، 1998ء) مخ 11.
(18) حفـیظ ابوالاعجـاز صـدیقي، کشـاف تنقیـدي اصـطلاحات، (اسـلام آبـاد: مقتدره قومي زبان، 1985) مخ 55.
(19) ایضاً ایضاً ( ایضاً ) مخ 56.
(20) ایضاً ایضاً ( ایضاً ) مخ 57.
(21) محمـدنواز پروفیسـر طـائر، روهـی ادب، متـرجم صـفدرعلي شـاه، ( پښور: پښتو اکېډیمی ، 1987ء) مخ 40.
(22) ایضاً ایضاً ( ایضا ) مخ 40.
(23) فـاروق عثمـان، نکـات نظـر، (ملتـان: بـیکن بکـس، گلـش کشـت، 1998ء) مخ 16.
(24) ټـي، ایـس، ایلیـټ، تنقیـد کـې حـدود، ایلیـټ کـې مضـامین، درېـیم چـاپ، جمیل جالبی، (کراچی: رائټرز بك کلب، 1971ء) مخ 293.